له خپلو حقونو خبر شئ

له محلي منابعو سره وصل شئ ترڅو د خپلو حقونو په ترلاسه کولو کې مرسته ترلاسه کړئ.

د اساسي قانون د حقونو سره کارتونه

د لاس انجلس ښار د ۲۵ نه په زياتو لومړۍ درجه ژبو کې معلوماتي کارتونه لري؛ لکه کوريايي، دوديزه او ساده چينايي، ارمني، تاګالوګ/فلپيني، فارسي/پارسي. د لا زياتو معلوماتو لپاره د کورنيو لپاره د ټولنيزې پانګونې ادارې (CFID)، bit.ly/KYRLA4Families يا د لاس انجلس کومې محلي کتابخانې ته مراجعه وکړئ. همداراز، يو سور کارت د bit.ly/LAPLRedCard له لارې ډاونلوډ کړئ.

د کورنۍ د چمتووالي پلانونه او سرچينې

درکه د مهاجرت اضطراري حالتونه پېښ شي، پلان جوړ کړئ. معلومات ډاونلوډ کړئ ترڅو زده کړئ چې څنګه چمتو شئ.
د کورنيو د چمتووالي د وسايلو بسته – Bet Tzedek :
او يا هم Bettzedek.org ته مراجعه وکړئ يا 1-323-255-5838 ته زنګ ووهئ.

د مهاجرينو د حقونو مرکز د کورنيو د چمتووالي پلان: ilrc.org ته مراجعه وکړئ يا 1-415-255-4944 ته زنګ ووهئ.

د تور پوستو لپاره د عادلانه مهاجرت ائتلاف (BAJI) د تورپوستو لپاره د ټولنيزو او د پولو اړوند مسايلو په اړه معلومات وړاندې کوي.د BAJI منابع همدارنګه د فدرالي پاليسيو تشريحوونکي هم پکې شامل دي. BAJI د خپل محلي څانګې له لارې په جنوبي کاليفورنيا کې افريقايي او هايتيايي بندي شويو کسانو ته د ضمانت مرسته وړاندې کړې ده. د نورو معلوماتو لپاره BAJI.org ته مراجعه وکړئ يا 1-347-464-5422 ته زنګ ووهئ.

وړيا يا ټيټ لګښت قانوني خدمتونه

د حقوقي مشورې يا حقوقي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره، له يو جواز لرونکي وکيل سره ملاقات وټاکئ.

Bet Tzedek حقوقي خدمتونه
د دوشنبې څخه تر جمعې، سهار ۹ بجې تر مانبام ۵ بجو پورې
bettzedek.org ته مراجعه وکړئ يا 1-323-939-0506 ته زنګ ووهئ.

د مهاجرو د حقونو د مرکزي مرکز (CARECEN) د دوشنبې څخه تر جمعې، سهار ۹ بجې تر مانبام ۵ بجو پورې
carecen-la.org ته مراجعه وکړئ يا 1-213-385-7800 ته زنګ ووهئ، او بيا ۱۳۶ شمېره وټاکئ.

د لاس‌انجلس د مهاجرو د بشر حقونو ائتلاف (CHIRLA): دوشنبې او چهارشنبې، سهار ۹ بجې تر ۱ پورې، بيا له ۲ تر ۵ بجو پورې chirla.org ته مراجعه وکړئ يا 1-213-201-3797 ته زنګ ووهئ.

Esperanza – د مهاجرو د حقونو پروژه: د دوشنبې څخه تر جمعې، له سهار ۹ بجو تر مانبام ۵ بجو esperanza-la.org ته مراجعه وکړئ يا 1-213-251-3505 ته زنګ ووهئ.

د مهاجرو د حقونو د مدافعينو مرکز
د دوشنبې څخه تر جمعې، له سهار ۹ بجو تر مانبام ۴ بجو، immdef.org ته مراجعه وکړئ يا 1-213-634-0999 ته زنګ ووهئ.

LAFLA – د لاس‌انجلس د حقوقي مرستو بنسټ : د دوشنبې څخه تر جمعې، له سهار ۹ بجو تر مانبام ۵ بجو (ملاقات له مخکې وخت ټاکلو پرته هم منل کېږي)
lafla.org ته مراجعه وکړئ يا 1-800-399-4529 ته زنګ ووهئ.

د زده کونکو او کورنيو لپاره ملاتړ

زمونږ دوه ژبنی د "مونږ يو يو" د سرچينو لارښود د لاس انجلس د متحدو مکاتبو ناحيې پورې اړه لري، چې قانوني حقوق، تعليم، هستوګنه، روغتيا او مهاجرت تشريح کوي. دا لارښود ځايي نمايندګۍ لري چې د رواني روغتيا او د LGBTQ+ ملاتړ برابروي. د نورو معلوماتو لپاره lausd.org ته مراجعه وکړئ يا 1000-241-213-1 ته زنګ ووهئ.

(LACOE) د لاس انجلس د ښار د تعليم او تربيې دفتر د ښار د ۸۰ مکتبي ناحيو ملاتړ کوي. د مکاتبو پاليسۍ، وړانديز شوي حقوقي خدمتونه، او د بې ملګرې مهاجر ماشومانو لپاره سرچينې او نور معلومات ترلاسه کولو لپاره lacoe.edu ته مراجعه وکړئ يا 1-562-922-6111 ته زنګ ووهئ.

د عزيزانو په موندلو کې مرسته

د لاس انجلس د مهاجرو د بشري حقونو ائتلاف (CHIRLA) هغو کسانو ته مرسته برابروي چې د خپلو نيول شويو کورنيو غړو په اړه معلومات لټوي. CHIRLA همداراز قانوني دفاع، د شړلو مخنيوی، د سرپرستۍ اسنادو په اړه مرسته، او د کار حقونو او د معاش غلا په اړه پوهاوی وړاندې کوي.

د نورو معلوماتو لپاره chirla.org ته مراجعه وکړئ يا 1-213-201-3797 ته زنګ ووهئ.

که تاسو خوک پېژنئ چې نيول شوی وي، او د هغه ماشومان د لاس انجلس د ماشومانو او کورنيو د خدمتونو اداري (DCFS) تر سرپرستۍ لاندې وي، نو د ماشومانو باور وړ سرپرست کولای شي له DCFS اداري سره اړيکه ونيسي او د ماشوم يا ماشومانو بشپړ نوم، عمر، پته، او د والدينو نومونه وړاندې کړي. د نورو معلوماتو لپاره dcfs.lacounty.gov ته مراجعه وکړئ يا 1-800-540-4000 ته زنګ ووهئ.

د امريکا تابعيت سره علاقه لرئ؟

د لاس انجلس عامه کتابتون (LAPL) د مهاجرت او تابعيت اړوند يو لړ خدمتونه وړاندې کوي، چې پکې شامل دي: د تابعيت غونډتنې کې مرسته، د تابعيت ټولګي، د ګرين کارت تمديد، د DACA او TPS د نوي کولو مشوره، او نور مهاجرتي خدمتونه. د ملاقات د وخت لپاره، lapl.org/newamericans ته مراجعه وکړئ يا 1-213-228-7390 ته زنګ ووهئ.

د توقيف او اخراج په اړه اندېښنې شريکې کړئ

سازمانونه د تليفوني کرښو او انلاين سرچينو له لارې د ټولنې د غړو د خوندیتوب احساس د ډاډمن کولو لپاره خدمتونه وړاندې کوي. د

کاليفورنيا د چټک غبرګون شبکه ccijustice.org ته مراجعه وکړئ.

د مهاجرو د مدافع قانوني مرکز د حقوقي منابعو د چټک غبرګون تليفوني کرښه: د دوشنبې تر جمعې، سهار ۹ بجې تر ماسپښين ۴ بجو پورې او يا 1-213-833-8283 ته زنګ ووهئ.

د CHIRLA تليفوني کرښه
د دوشنبې تر جمعې، سهار ۹ بجې تر مانبام ۵ بجو پورې 624-4752-888-1 ته زنګ ووهئ.

1 **نوټ:** دلته ورکړل شوي معلومات يواځې د خبرتيا لپاره دي. دا بايد د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي، او نه هم د لاس انجلس ښار رسمي پاليسي ده. که تاسو حقوقي مشورې ته اړتيا لرئ، نو مهرباني وکړئ له يوه وکيل سره مشوره وکړئ.